# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| زن پیشتاز | Vanguard Woman |
|---|---|



ژباړه: فرهاد ویاړ


۱۰ اکتوبر ۲۰۱۵

## د بنځو سور پوځ

**(۴)**



جونګ هوا تړۍ او وږې د شپې په تیاره کې په غره کې خپله لاره وهله.ناڅاپه يې په یو کور سترګې ولګیدلی، ګمان يې وکړ چې شاید هلته د خوړولو لپاره څه پیدا شي.



جونګ هوا سترې ستومانه د کور دروازې ته ورسيده، هلته يې يوه دسته موشو (چينی خواږه) له ديواله ځوړند وليدل، يو دانه موشو يې راواخيست او تيز تيز يې وخوړو.



هغې موشو تيز تيز وخوړ او تندې ونيوله. غوښتل يې چې د باران اوبه اوڅښي چې ناڅاپه يې له شا يو مين آواز واوريده:«خورې، دا اوبه مه څښه! دننه راشه، اوبه وڅښه.» جونګ هوا په حيرانی سره وليدل چې د دروازې تر څنګ يو سړی ودريدلی دی.



جونګ هوا دننه لاړه، باور يې وکړ چې هغه يو ځوان سړی دی، لا په شک کې وه چې هغه نفر ژر خپله خولۍ ليرې کړه او وې ويل:«مه هيريږه، زه هم ستا په شان يوه ښځه يم، نوم مې هون ليان دی.»



جونګ هوا په حیرانی تري پوښتنه وکړه:«ته ولي په ظاهره د سړو په شان ښکارئ؟» هون لیان په غمژن آواز ورته وویل:«د ژوند کولو لپاره راته له دي بله لاره پاتي نه ده، خسر او خواښي مي د زیارت لپاره ښار ته تللي دي، زه د دې موقعي څخه په ګټه اخیستلو غواړم آزاد شوو سیمو ته لاړه شم او د ښځو سره یوځ کي شامله شم.»



جونګ هوا تري پوښتنه وکړه:«آیا خاوند دې د دي کار لپاره رضایت لري؟» هون لیان، ورته وویل:«لس کاله وشو چي زما خاوند نشته.» د دي خبرو په اوریدو سره جونګ هوا په قهر سره وویل:«زمونږ لپاره دلته د ژوند لپاره هیڅ لاره نشته، دواړه به یوځای سره یوځ ته لاړ شوو.»



په سبا یي، دواړه د سره یوځ په لټه د **هون شي** کلي په خوا روان شول.



دواړه د هون شي په کلي کې هغه ځای ته ورسیدل چې هلته غونډه روانه وه، هغوی چرت ووهو چې څنګه په غونډه کې ګډون وکړي. په همدې وخت کې، د سره پوځ له یو خبریال سره یې ملاقات وکړ چې د هون لیان ګاونډي وو. هون لیان ژر جونګ هوا هغه ته ورو پیژندله او وې ویل چې هغه دوه کاله مخکې د یو زورواکه ارباب له کوره تښتیدلی ده.



خبریال، دواړه غونډې ته راوستل.جونګ هوا د میدان په منځ کې هغه وسله واله ډله ولیده چې د هغوی سره د یوځای کیدلو لپاره سخته وارخطا وه.



غونډه پیل شوه، د سیمې قوماندان په اوچت غږ وویل:«سرتیرو! د چانکایشک ارتجاعي ډلې، اوس زمونږ په آزاد شویو مرکزي سیمو باندې له جنونه ډک بریدونه پیل کړي دي، د ګوند هیله دا ده چې تاسې ټوپک واخلئ او خونړۍ مرتجعین په خپلو مردکیو ښکار کړئ....»